رازقي نړیوال

# اندیښنې

www.libtool.com.cn

د پوهنې او روزنې په چارو کې
د ښوونځي او شوونځي د درسي کتابونو او آثارو د چاپ او خپرولو ټولنه

ژوندون

www.libtool.com.cn

داکتاب داطلا عاتواو کلتور وزارت
لەخوا پەوروستیو دوو پیړ یو کـی
دپښتو دچاپی آثارو دسیمینار پـه
مناسبت چاپ شو

www.libtool.com.cn

# اندېښنې

(رازقي) نړیوال

PROPERTY OF ARIC

نیټه: ۱۳۵۶- ۱۹۷۷

کال

کابل ـ افغانستان

www.libtool.com.cn

# انتساب

* * *
* * *
* * *

په وروستیو دوو پیړیو کې
دپښتو دچاپ شوو آثارو دسیمینار
په ویاړ
دا«اندیښنې» د۱۳۵٦ کال دپښتو
دنړ یوال سیمینار په درناوي هغو
خلکوته اهدا کوم
چې په گران هیواد کې دنوی
جمهوري نظام
دمترقي اهدافو په رڼا کې د
نیکمرغه ،سر لوړی او پر مختللی
افغانستان دپاره صادقانه کاراوهڅې
کوي.

* * *
* * *
* * *

www.libtool.com.cn

# لړ


| ګڼه | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ــ | مقدمه | |
| ۲ــ | جمهوری سندره | ۱ |
| ۳ــ | زما جنت وطنه ! | ۲ |
| ٤ــ | دانقلاب زلمی | ٤ |
| ۵ــ | څنګه مبارزه ؟ | ۵ |
| ٦ــ | ښکلی می هیواد دی | ٦ |
| ۷ــ | دعلم قربانیان | ۷ |
| ۸ــ | دځوان اردو عسکر | ۸ |
| ۹ــ | دجمهوریت دلاری قهرمان شهید ته | ۱۰ |
| ۱۰ــ | دآزادی مین | ۱۱ |
| ۱۱ــ | افغانی ملی سندره | ۱۳ |
| ۱۲ــ | دجمهوریت په رڼا کی | ۱۵ |
| ۱۳ــ | دوطنپالنی عقیده | ۱۷ |
| ۱٤ــ | دجمهوریت سبا وون | ۱۸ |
| ۱۵ــ | له میړونو ډکه هیواده! | ۲۰ |
| ۱٦ــ | دنوی خاصه | ۲۲ |
| ۱۷ــ | له اسراره ډك لیونتوب | ۲۳ |
| ۱۸ــ | ای زما دژوند امیده ! | ۲۵ |
| ۱۹ــ | دافغان ولس هیواده ! | ۲۷ |
| ۲۰ــ | آزادی که دژوند نوم ؟ | ۲۸ |
| ۲۱ــ | زما ښښتنه خاوره | ۲۹ |
| ۲۲ــ | دجمهوریت پیغام | ۳۱ |
| ۲۳ــ | ملی شهید | ۳۳ |


PROPERTY OF ... 7051

www.libtool.com.cn




| مخ | عنوان | گڼه |
| --- | --- | --- |
| ۳۵ | دآزادی پربښته | ۲٤ـ |
| ۳۸ | زما سپیڅلو هیلو ! | ۲۵ـ |
| ٤۰ | ای زماگرانه هیواده ! | ۲٦ـ |
| ٤۳ | دوطنپالنی غرور | ۲۷ـ |
| ٤٤ | گران وطنه ! | ۲۸ـ |
| ٤٦ | جمهوریت دی تل وی | ۲۹ـ |
| ٤۷ | دمبارزی مین | ۳۰ـ |
| ٤۸ | دمو جودیت مینه | ۳۱ـ |
| ٤۹ | خپلواکی رڼــا ده | ۳۲ـ |
| ۵۲ | تجویز | ۳۳ـ |
| ۵۳ | دشتمنیو مالکه ! | ۳٤ـ |
| ۵۵ | پښتو نستان او دنــوی‌وخت زیری | ۳۵ـ |
| ۵۷ | دانقلاب ناری | ۳٦ـ |
| ۵۸ | حق زما پرخوا دی | ۳۷ـ |
| ٦۱ | ننی انسان یم | ۳۸ـ |
| ٦۲ | راز منه آشنا | ۳۹ـ |
| ٦۳ | دشاعر لنډه پیژندنه | ٤۰ـ |


* * *

* * *

www.libtool.com.cn

# دا کتاب

زموږ ملی انقلاب د خپلو نوروا قتصادی او اجتماعی بدلونونو او اوښتونونو تر څنګ دملی او مترقی کلتور دودی او پرمختیادپاره لاره پرانستی او پدغه لاره کی یی مثبت اوعملی ګامونه ا خستی دی.

دملی او انقلابی فکر دپالنی اوهڅونی په بر خه کی د جمهوری دولت فعالی برخی افغان زلمی نسل ته ددی موقع په لاس ورکړه چه خپل انقلابی فکر په خپلو هنری تخلیقاتو کښی ځای کړی او شعر او هنر ته نوی روح وبښی .

چه له هغه جملی څخه یو هم ښاغلی رازقی دی چه زموږ دز مانی څخه یی نوی الهامات ا خستی اودخپل هنری تخیل په جامه کی یی بیرته خپلی ټولنی ته وړاندی کړیدی. چه موږ یی دنوی او مثبت تفکریوه بیلګه بللای شو .

زه خوشحاله یم چه په دووروستیو پیړیو کی دپښتو د چاپ شویو آثارو دسیمینار په مناسبت دچاپ شویو کتابونو په لړ کی ددی زلمی شاعر داشعارو دمجموعی وخپرولو ته هم موقع ورکړ شوی ده .

پو هاند دکتور نوین
داطلاعات او کلتور وزیر

www.libtool.com.cn

# جمهوري سندره

گران افغانستانه ! جمهوري دې مبارك
داملي حکومت او آزادي دې مبارك
اى افغان او لسه! دا نېمادي دې مبارك
سنا په ملي ژوند کې نیکمرغي دې مبارك
لوړ افق په لوري ترقي دې مبارك
گران افغانستانه ! جمهوري دې مبارك

* * *

لاړه زمانه درد منــــدي او رنځوري نوره
تېره مرحله شوه د ظلم او نوناداري نوره
نوز په خپښتنان د انساني ښکلو حقوقو شو
واو ښندله یا نه ددې وېـــري کمبختي نوره
مینه، ورورولي، برابري دې مبـــارك
گران افغانستانه ! جمهوري دې مبـــارك

* * *

یا خیري غوانانو او چمتو شي دسبا په نوم
نوو آر زوګانو، نوي ژوندا او دبقا په نوم
تیر نو زیاتي هیر کړي چي نوروخت مبارزي غواړي
لاړ شي پسي وړاندي د نهضت او ارتقا په نوم
زیري نوي نسله! کامیا بـــــي مو مبــــــارك
گران افغانستانه ! جمهوري دې مبـــارك

* * *

۲۶ ــ چنگاښ ــ ۱۳۵۲ ــ کابل

www.libtool.com.cn

# زمآ جنت وطنه

که دی شنه شنه چمنو نه که سمسوره دی باغونه
درنو اوبونه ډك تــل که ویالی دی یا ډنډ و نه
تنکیتوب که طراوت د ی رنگینی د ی که رنگو نه
ښه فضا کی ښی وږ می دی سری یا غچــــی دی که گلونه
که ښکلا او که جـــمال د ی که هنـر او یا کـــمال دی
دنړی پـر مـخ جنتــــه ! ای زما ښکلیه هیـــــوا ده!
د غـه واړه هم دا تــــه یی
دغه واړه هـــــم دا ته یی

* * *

که دی دښته مستسیندونه په گړاکه دی رو دو نـــه
که چینی له کیفــه ډ کـی که پـه خوږ دی ابشـارو نه
ښښانی که دستر تو ب دی داپراخ پراخ ډاگــو نه
جگی تــړی هسکــی خوکی که لوړ غرونه یار غـــونه
که شو کت دنا تـرو د ی که عـظـمت د سر درو دی
د نـــړی پر مخ جنتـه! ای ز ما ښکلیه هیــوا د ه
د غه واړ ه هـــم دا ته یی
د غـــه واړه هم دا ته یی

* * *

www.libtool.com.cn

خـزانې او که دولـــت دی | که هستي مو جو د یـت د ی
افغاني ښکـلـې خویو نـــه | که میړانه یا غیـــر ت دی
شمهکـ ري او سر ښنـــد نـــي | که همـــت او شجاعت دی
سر لوړی دی که ویاړ نـــي | کـــه و قار او یا عز ت دی
دا نا موس او که ابـروده | مـاــیـټ دی کـه پښتـو ده
د نړۍ پر مـخ جنتــــه ! | ای زما ښکلیـــه هیوا د ه !

د غه واړه هـــم دا ته یی
د غـــه واړه هم دا ته یی

. . . .

ونو لي که دخـــو دی د ی | جـــذبې که د مستي دی
که دالو ړی غـــوری هیلی | د زړښتینې نیکمر غـــبې دی
که جلوی د سو لـــې ا من | کـــه نغمې د آزا دی د ی
په ورورۍ برابـــر ی کې | اند یښنې که ددو ستـــې دی
د فطرت ښکلې رازو نـــه | د ژ وندو ن ژور رمزو نـــه
د دنیـــا پر مخ جنتـــه! | ای زما ښکلیـــه هیوا د ه

دغه واړه هـــم داتــــه یی
دغه واړه هـــم دا تـــه یـــې

* * *

شتمنـــې کــــه دد نیا د ه | ژو ند یتوب او که بقـــا ده
دا ښایستـــه وا قعیتو نـــه | نعمتــــــونه که ښکلا ده
تجدد کــــه تحـــول دی | تنوع ده کــــه لو ړ تیا ده
د ز ړه سر که داشیا د ی | که جو غـــه پـــه‌سرز ماده
زماغوښنه ، ز ما و ینـــــه | زما ساه، و جود او مینه
که مې کور که مې دیـــره ده | که مسکن یا هـــدیـــره ده
چې دی نمانځم چې‌دی‌ستایم | چـــې لـــه تایمه اوستایم

دجنت په شـــان وطنـــه !
د غه واړه هـم دا ته یــــې

* * *

www.libtool.com.cn

# دانقلاب زلمی

وینی مــــی تــــو د ی‌دی دو مره نه چی‌می خودی یوسی
پــو هـــه را ســره ده هسی نه چی می مستی یوسی
خوا نی ولو لی او پیغلی هیلی‌ېی توفان زړه کی
نه هغومره هم چی می یو نونه لیونی یوســـی
زه یم چی غرور می قربانی ته‌په نښا ورځی
نه دومره‌چی‌ژوند نه می‌شعور اوهوښیاری‌یوسی
ئن هم ډیر در دونه شه زما دمینی لاره کی
نه دومره چی‌ما ځنی احساس اورنګینی یوسی
داسرود دعشق چی زړو کی نه‌وینم څوریږمه
نه هغومره هم‌چی می یونونه لیونی یو ســـی
زه کله غولیږم چــې‌تاریخ‌کی نوی باب یمه
زوی د حوا د ئــو اوزلمـــی دانقــلا ب یمه

www.libtool.com.cn

# ځنګه مبارزه

مبارزه ښایی پیکیره .مقاومه.پولادینه وی هم
نه‌ماتیدونکی.اصولی وی او متینه وی هـــــم
په قوی عزم تر وروستی شیبی‌د‌ژوند پوری وی
تر آخیری‌ځاځکی د وینو . او رښتینه وی هم
تر نهایی هدفه پور ی په میړانه‌مینه
پخه،ثابته . زړه وره ، له یقینه وی هم
دخلکو قار چی یی په منځ کی‌سری لمبی وهی تل
ستړی‌کیدونکی نه، فعاله آتشینه‌وی‌هم
بی ښوییږ نی ترمطلوب بریالیتوپوری
انقلابی‌تغیر راو ړونکی او ا مینه وی هم
هغــه چی کیږی دبر ی‌او آزا دی په خا طــــر
دستری سولی دانسا نـ‌د نیکمر غـــی په خاطر
دنوی‌و خت نسل همــدا مبارزه‌خوښوی
چی‌تجدد‌راو ړی هغه مجادله خـــو ښـــــو ی
په انقلاب دارښتیانی زا من‌دخلکوګوره
چی‌تری‌تاریخ جو ړ شی هغه‌مجاهده خرښوی
نوی نړی نوی انسان داوسیدودپاره
پوره‌رو ښانه او آزا مه آینده خـــوښوی
هغه چی‌ئن یی خیال کول یوازی‌خوب لیده دی
نوجوړونکی دتاریخ هغه‌نیټه خو ښوی
په استعداد چی هر انسان خپلــه‌ارتیا کړی لیری
دتاریخ جبر کی ئن‌هغه‌اندیښنه خوښوی
مبارزی دی وی . دهغسی پیړی په خاطر
دسو لی، آمن،آزادی‌اونیکمر غی خو ښوی

www.libtool.com.cn

# ښکلی می هیواد دی

ښکلی می هیواد دی
دادآریانا وطن
اوسی افغانان پکښی
دا دستر یما وطن

مور ددی ښارونو ده
بلخ د خردسان زما
ویاړ دتاریخونو دی
لوی افغانستان زما
تاج دی دجهان په سر
زړه دی دایشیا وطن
ښکلی می هیواد دی
دادآریانا وطن

• • •

کور دتاریخی میړنو
دا دتمدن زانگو
دا د آزادی اوپت
دادعلم وفن زانگو
ډیری خزانی لری
دا مو دبقا وطن
ښکلی می هیواددی
دادآریانا وطن

• • •

ځی دستر هدف په لور
نن دو خت کاروان سره
داقهرمانان خلك
سم نوی انسان سره
لوړ افق رڼاکی به
جوړ شی داز ما وطن
دا جمهوریت ز ما
دادآریانا وطن

www.libtool.com.cn

# دعلم قربانیان

دتاریخ پاڼو کی یی نوم په زرین‌خط باتی شی
چی خـوك‌سرورکړی دبشر دسعادت دپاره
دیاد گار خلی به یی‌خا مخاپـه زړو جوړیږی
چی قربانی‌شی ځوك د علمو معر فت دپـــار ٠
دا مر تبه یی ټیټه نه‌ده سر بازانو ځنـی
چی مړینه‌و منی د ښکلی وا قعیت دپـــــاره
نن انسانان به‌یی په مرگ‌باندی په خه نه ژاړی
دچا چی‌روح شی نذرانه دبشریت دپاره
دربیټتیا نیوانسانانو لو ړ مقام به گټی
چی دخپل ژونده شی ځوك تیر د حقیقت دپاره
قهرمانی یی تړیوال‌له یادو کله باســی
ځوك چی‌سر ورکړی‌دنړی‌دستر خدمت‌دپاره

www.libtool.com.cn

# دزلمی اردو عسکر

دښلمی پیړۍ ځوان یم — اودنوی وخت عسکر یم
د وسملی سره می پوهه — دزلمی اردو افسر یم

* * *

د هیواد سر ښنده غړی — قربانی دناموس و ننګ یم
د ښتیانی زوی یم دخلکو — د غیرت په وینو رنګ یم
شهکاری می په تاریخ کښېږی — لکه لمر هسی ځلانده
فنکاری دسر بازو می — په نړی کی ده وپانده
دمیړانی په ډګر کی — تر هر چا نه زړور یم
دښلمی پیړی ځوان یم — اودنوی وخت عسکر یم

* * *

زه مین په آزادی یم — تل خپلواك یم او سید لی
حریت پاکه فضا کی — روزل شوی زیږیدلی
استعمار ته می ورکړی — دمیړانی امتحان دی
په زور ګیرو می او رکړی — دغه ځمکه او آسمان دی
پهلوان د حوادثو — توریالی دهر ډګر یم
دښلمی پیړی ځوان یم — او دنوی وخت عسکر یم

* * *

www.libtool.com.cn



نن د وخت په تحول کې
سر لې. امن پسې درو مم
زه د ښمن دامیر یا لیزم
همیشه یمه ملگر ی
هر ملې جنبش په حق کې
دشلمې پیړۍ ځوان یم

ما مو ندلې هم بدلون دی
دا زما د ژوند مضمون دی
د نړۍ د د ښمنانو
د رښتینو انسانانو
مدام تیر له مال اوسریم
او د نوۍ وخت عسکر یم

• • •

زما خاوره سره او سپین دی
زه یې تل یم سا تندو یه
سر مې جگ دی په نړۍ کې
زما نه په دې شاهده
رازقي ! وینښ او هوښیار یم
دشلمې پیړۍ ځوان یم

زما گران وطن جنت دی
خپلوا کي مې لوی نعمت دی
زما ژوند په شرافت دی
دغه گرده حقیقت دی
له هر رازه ښه خبر یم
د دې نوې وخت عسکر یم

www.libtool.com.cn

# دجمهوریت دلاری قهرمان شهیدته

دجمهو ریــت د ښکلی لا ری قهر ما ن شهیــده!
ستــا لهسپیڅلو قر بانیو شم قربان شهیده!
ستا په سرو وینو کلمه د جمهوری نن ښکل شوه
تا گرا ن هیواد ته را وو ړ ښکلی ار مغــا ن شهیده !
زلمی افسره ! ستا په ځوانـــو آرزو گانو قسم
یو به تر یا یه ستا په پل با ندی روان شهیده !
ستا سر لوړ ی ته هر څوك سر ږه در ناوی ټیټوی
ستا په ایمان باندی ځوانا ن لری ایما ن شهیده !
ستا ار مانو نه به مو ږ هم پــه قربانی سر کوو
تاچی تر سره ددی خلکو کړ ارمان شهیده !
لوی افتخار په دی نړی کی بــــه تردی بل کوم وی؟
ستا په نامه باندی چی ویاړ ی هر افغان شهیده !
ستا شعارونه له هیچا نه هیریدلای نه شی
ستا شعارو نه نن شعار دزوړ اوځوان شهیده!

www.libtool.com.cn

# دآزادۍ مینن

زه آزاد یم زیـږیـد لـــی … او آزا د یـــم او سیـد لـی
دخپلوا کـــی مور په غیږ کی … دخپـــلوا ك پلار ښکلی زوی یم
د آزاد و لس ســـږ ی یـــم … د آ زاد وطـــن بچـی یـــم
آزاد ی مـی غو ښه ، وینه … آزادی مـــی ژ و ند او مینــه
په آ زادو نغمـو سـر تـــل … یو بلبـل د دی چمـــن یـــم
زه میـــن په خپلوا کی یـــم … زه میـن په گـــرا ن وطن یم

* * *

دا لو ړ غرو نه کـړ نگو نـه … دا ښو ییـد لـیجگ ناوونه
ســـر د ری او تا تر ی مــی … مر چلو نـــه ، سنـگرو نه
زمږ مــــی د آز ا دی مــــی … نخیـد و نکـــی آبشا رو نه
افسانـی د حریـت مــی … پــه هیواد کی سمی،غرونه
همیشـــه پــه آز اد ی مـی … ځکه تیر تر ما ل اوتن یـم
زه میـن په خپلوا کی یـم … زه میـــن پـه خپل و طن یم

* * *

دا زمـــا خپلوا کــه خا و ره … چــی زانگـو د آز اد ی د ه
چـی نړ ی با ندی جنت د ی … نښمـا نـــه د آزاد ی د ه
د آزاد ه ژ ونـد فضـا مـی … دا آزاد ه شـا ن دنیا مـــی
ښـه مثال د عظمتـــو د ی … دو قـــار او د آ بـــرو د ی

www.libtool.com.cn

ټول جهان ته دا ښکاره شي
زه مین په آزادي یم
د آزاد ژوند هیله من یم
زه مین په ګران وطن یم

* * *

آزادي زما ژوندون دی
آزادي زما سیالي ده
ما په وینو ده ګټلې
لا په وینو به یې ساتم
خو ژوندی یمه وطنه !
زه مین په آزادي یم

آزادي زما هستي ده
آزادي مې نیکمرغي ده
او په سر مې ده ساتلې
قربا نیو ته تل ناخم
آزادي د آرزو من یم
زه مین په ګران وطن یم

www.libtool.com.cn

# افغانی ملی سندره

یو ز موږ هیواد دی — ګران افغانستان
لوړ به یی تل ساتو — دا ملی نښان
یو دی بدخشان ، هرات — بلخ او کندهار که دی
غزنه ، ترکستان ، پکتیا — کابل ، ننګرهار که دی
ټول له یوه خاوره ده — بامیان که سیستان
یو ز موږ هیواد دی — ګران افغانستان

* * *

ترک اوهزاره ، او ز بک — ورونه سره واړه دی
هر بلوڅ ، تاجک ، پښتون — زړه په زړه تر غاړه دی
ګډی زموږ وینی دی — ټول یو افغانان
یو ز موږ هیواد دی — ګران افغانستان

* * *

موږ کی تور او سپین نشته — کلیو که ښارو کی یو
تیټ او پاس هیڅ نه منو — سمه که په غرو کی یو
ګډ تاریخی نوم لرو — لوړ شوکت او شان
یو زموږ هیواد دی — ګران افغانستان

• • •

www.libtool.com.cn

دوست او دښمن گډ مو دی　　یو دی ملیت زموږ
یو مو قهرمان خلك　　یو مو تهی ملت زموږ
یو مو د گډ ژوند پړاو　　وړاندی یو روان
یو ز موږ هیواد دی　　گران افغانستان

*　*　*

ښ په دی نړی کی ټول　　ژوند د شرافت غواړو
سوله، آزادی، ورورۍ　　مینه عدالت غواړو
څو د اوږ هدف پسی　　ستر لړو ارمان
یو زموږ هیواد دی　　گران افغانستان

www.libtool.com.cn

# دجمهوریت په رڼا کې

زما وطن د ی دلر غو نوعظمتو نو ننبه
د زمانې ددې ښایسته ښایسمنه یا دونو ننبه
که په ښارونو کې مې ناوې ؤلرغونې غزنې
بلـخ راته پاتې لويه مورده دښارو نو ننبه
دتمدن معراج ته هر چانه يـم مخکــې تللـې
په تاریخــو کې مې ژ وندې د تاريخو نو ننبه
دایشیا زړه ا ودنړ ی پـه‌سر جو غه یمه زه
د هیواد هره خوا مې ده دجنتو نو ننبـــه
زما د ژ وند شمهکار ی هیرې له زمانه، نه دی
په سمو غرو کې مې‌ښکار ،ده دبړ مو نو ننبه
درنده ما ضـــې‌مې ده له‌ډیره افتخاره ډکه
داآینده‌مې ور سره هم‌له وقاره ډکه

* * *

دهیواد غرو نه مې له‌سنړ‌رخزا نــو ځنــې ډك
دا مست سیندو نه مې له‌غښو قدرتو ځنې ډك
دا ښکلې خاو ره مې زانګودسو کالیو بو یــه
پراخ دا ګونه مې له ډیرو ثــرو تو ځـنې ډك
دا سپیره کاڼې مې هم کم‌تر‌سرولالونو نه دی
ښکلې ټاټو بې د ی زما له‌سپينو سروځنې‌ډ ك
میړ نو خلکو مې هیڅا نه‌سر ټیټ کړی نه‌دی
زما تاریخ دی دشمهکارو له‌کیسو ځنــې ډ ك

www.libtool.com.cn

زما دیری او هدیری دواړه‌در ندی یا دیړی
دی پس منظــر می تاریخی‌شخصیتو ځنی ډك
دتمدن ماشوم‌لو ی‌شو ی دی لمن کی زما
هر طلایی دوو تیر شوی په وطن کی زمـــــا

* * *

په‌دی ویاړونو کی روان یم‌دغیرت‌په چغــــه
نه مغروریږم و ړا ندی ځم‌دحرکت په چغه
په تو دو وینو، درو نډانو‌مفکورو په ملتیا
د ژوند کاروان به وړاندی‌بیا یم حریت په چغه
دنوی وخت غوښتنی هر کلــه‌شعار دی زما
ور کوم خلکو ته ویښتیــادلوړ همت په چغه
داچی سر تیری، زړور ،زوړ مستقبل پسی‌ځم
زه ویده نه یم، مدام ویښیږیم دجرئت په چغه
هر یو افغان دنو ی ژوند په‌تکل مــلا تړلی
را لړزیدلی مو هیواد دجمهــوریت په چغه
د جمهو ریــت‌نظام د لاری اعتلاپسی ځو
چی توری شپی‌ونه لری هسی سباپسی ځو

www.libtool.com.cn



# دوطنپالني

## عقیده

زه هغه درد من یم، د دردمنو چي دردونه خورم
هغسي غمجن یم، دغمجنو چي غمونه خورم
پوه یم دا تودی، سږی دژوند ماته قوت بخښي
ځکه داوبو غوندي لنبي خورم‌اواو رونه خو رم
دا خوږی ترخي مي له‌خپل‌عزمه گر ځواي نه شي
زه دخپل هدف لار کي‌اغزي‌او دا خنډونه خورم
هریو مشکل غاړه دتسلیم‌زما په وړاندي ږدي
زه هغه زیار کښ یم چي‌ربړونه اوزیارونه خورم
ډیره ښه ده‌دوا مي درنځو نــو حوصله گنم
خیرکه یم رنځور خودرنځورو تل رنځونه خورم
هر باطل به محوه کړم ترڅوچي حق ته ورسم
ځکه مي په پاکه عقیده داسوگندونه خورم

www.libtool.com.cn

# دجمهوریت سباوون

ستورو په آسمان کی خنداگانی اتڼونه کړل
یوبل ته یی پټ پټ په شو خیاشارتونه کړل

سپینه سپوږمۍ وه ته دستورو له جرگو ځنی
واوښته په بیړه لوړو غرږله کنډو وځنی

څرك درڼو ستوږو په افق کیورکیدونکی شو
غیږه دفضا کی دنور مخ راځلیدونکی شو

ناڅاپه دشپی په کیفیت کی اوښتون راغی
څرك شو سپیدی وچاودلی ښکلی سباوون راغی

* * *

والو ته نسیم دسر درو اوتو تیرو ځنی
ډکه یی لمنه له پستو خوږوږمو ځنی
وینښی یی غوټی کړی په باغوکی له خوبو ځنی
ویی غوړو ل تنکی گلونه له اغزو ځنی
ووریده پر خه د گلانو او ونو پرمخ
میشت شو طراوت دچمنو او دباغو پرمخ

خوږ شو دمرغانو چوپتیاماته شوه بدلون راغی
نوری سپیدی وچاودلی ښکلی سبا وون راغی

* * *

وونله سپینه پلوشه نو روتیارو ځخه
پوزنه شوه ږنا دلوږ افق له کنارو ځخه

www.libtool.com.cn

ولویدلی وړانګې هرې خواتهسموغرو باندی
راغله خوشالی دوطنوا لو خپوزړو باندی
ولړ زیدی هیلی ! وماحول پــه ګلوا شولو
وتخنیدی مینی طبیعت هم پـــه شنها شولو
زیری شول خپاره چی پهوطن نوی ژوندون راغی
نوری سپید ی د چاو دلی ښکلی سبا وون راغی

*　　*　　*

و ګوره زما دوطن څوانه ارنګینیو تــه
غوږ کیږ ده خوږو خــوږو نغمو دآزادیو ته
وویاړه تاریخ کی مو دنوی پیړی باب ښکاری
دیری تازګی دتحول اوانقلاب ښکاری
شاباس دفط رت په تکا مل اړ حرکت باندی
ښاداو سیتئی وګړو په قومـــــی جمهوریت باندی
خوښ دی «رازقی» چی می پهژوندنوی مضمون راغی
ورخ ده وریسی د جمهور یت چی سبا وو ن راغی

www.libtool.com.cn

# له سر و نو ډکه هيواده

له تانه شم قربان ای دسرو ډکه وطنه!
نازيږو نن پـه تا دافسانو ډکه وطنه !

دا ستا په هره خوا کی ښه‌يا دونه دی پراته
ښکاره دشهکار يو تاريخونه دی پرا تـه
لا ستا په کنډ وا لو کـی عظمتونه دی پراته
ستـا غيږه او زانګو کـی قدرتونه دی پراته

په زړو کی‌مو يی پروت دکارنامو ډکه وطنه!
له تانه شـم قربان په دسو و ډکه وطنه!

داته خو دميرويس او دخوشحال درنه ديره يی
هم ته خو دايمل او درياخان ښه هديره يی
دا ته خو دشيرخان او دروښان دژوندکعبه يی
دا ته خو دننګيا لو افغانانو ښـه اسره يی

ډير ښکلی اود ښکلـو خاطرو ډکه و طنه !
له تانه شم قربان ای دسرو ډکه وطنه !

افسوس چی نن هغه برم وعظمت نه دی راپا تی
افسوس چی نن هغه شان‌اوشوکت‌نه دی راپاتی
افسوس چی نن هغه ننګ‌اوغيرت نه دی راپاتی
افسوس چی نن دپلار نيکه‌همت نه دی راپاتی

خدای مه‌کړه چی‌ورك شم دننبانوډکه وطنه !
دښکلو منظر و اويـاد ګارو ډ کـه و طنـه !

www.libtool.com.cn

خونن دزمانې بادیم له خوبه بیدار کړې
ستا ډیرو نا خوا لیو یمپوه کړې هوښیار کړې
دعصر حرکت یم پرمختګ ته تیار کړې
ستامینې یم ترهر چارښتیانې فدا کار کړې
«نجات»ورکوم نور د کمبختــو ډکــه وطنــه!
دلویو نهضتو او جنبشو ډ کــه وطنه !

۹ر۳ر۱۳٤۸
کابل



www.libtool.com.cn

# دنوى خاصه

چى نوى راشى زاړه بدليږى    وخت‌چى‌څه‌غواړى‌هم‌هغه كيږى
هر څه شى شاته راستنيدلاى    يوازى وخت‌دى چى‌نه ستنيږى

* * *

نامه د نو ى ډير ه خوږه ده    ځكــه دنو ى دغـــه خاصه ده
څوك چى په زمزدنوى‌پوه شى    ورسره نوى بيا انديښنه ده

* * *

په نوى فكر دنن انسان د ى    په نوى لاره و ړاندى روان دى
چى نوى ژ وند وى‌نوى‌نړى‌وى    هريو و گړ ى په دى ارمان دى

* * *

دنوى عمر هم ښبنته‌ډيـر وى    زاړه زوال مومى اوتيــر و ى
په ژ وندكى ښكلى‌راز دى‌دنوى    ځكه دزوړ نوم ترهرچاهيروى

* * *

د ژوند غوښتنى چى قبلوى‌تل    نوى نو ځكه بريا لى كيږ ى
ددى ز وړ ز وا ل كى گــوره    مدا م دا نو ى را پيدا كيږ ى

* * *

نو ى دى ښښړ متر قى د ى    لاوده مو مى وى‌دى‌تكامل كى
نه منى نوى غلبه هيڅــرنگ    ژغل دى غالبه هر تعا مل كـــى

• • •

۳ـ۹ـ۱۳۵۱

كابل

www.libtool.com.cn

# له اسراره ډک ليونتوب

خواني خو دا وه چې شوه تيره او تيريږي پسې
كاروان دعمر دمرګ‌خواته نږدې كيږي پســې
دغه دژوند شتمني
وړيا له لاسه موځي
كمبختي داده لا زموږ چې خوشاليږو پرې هم
هيڅ نه پوهيږو پرې هم
* * *

وخت سره اوسپين دي خو يې‌موږ نن قيمت نه پيژنو
لا يې په لوی لاس غـورځـوو وسپند ته
بې ګټې ځي زاځني
او به يې وړي راځني
يا ورته اور اچوو ناخو دې لمبو‌نه يې هم
دا هوښياري ده كه جنون يـا ناداني يې بولې
موږ خو پرې ډير نازيږو
* * *

هوكې دا چا دومره پرانده اوليونيان غوندې كړو
دخپله خانه بيګانه په دې جهان‌غوندې كړو
دا خان چې نه پيژنو
جهان چې نه پيژنو

PROPERTY OF ACKU
7051

www.libtool.com.cn

دانو دچا دلاسه ده زموږ په مال‌اوپه سر
کنه دخپله لاسه

ناداري لوږه، بربنډه تیا او بی‌کوري خونه ده
دا تا پوهي خو نه ده ؟

* * *

آشنا ! ته راشه په دی راز خه‌پوهیدل پکار دی
په دی مرگوني غوندی ژوند فکر کول پکار دی
چی نه ژ وندي یو نه مرو
نه مو شعوز نه علم
زیاتي په دی پیړی کی هسی اوسیدل شرم دی
جرم دی هغه چی بخښل یـــی نشته
بیا دانسان دپاره
نه دی هم خپله مشوره بنه وکړه



www.libtool.com.cn

# ای زما دژوندامیده!

خومره ښکلی پسرلی د ی خومره ښکلی ننګر هار دی
په افــق ســبا ختلـــــــی نو ی و رڅ نوی سهار دی
یه زما د ژ ونــد امیــد ه! ژر ژررا شه نوردی واردی
خلك ستا په انتظا ر د ی وطن ستـــا پــه انتظار دی

* * *

ددهقان تو دو خولو نــن تازه کړی د ی ملکو نـــه
دلته شنه ښکاری باغونه هلته شنه ښکاری فصلونه
دکار ګر دوینو خاځکــو هــم ښندلی د ی رنګو نه
خو ك یی بو لی سره ګلونه خوك یی بولی داسره ملونه

* * *

چی لا سونه شی تنها کـــی دوز خونــه به و رانیږ ی
چی دا و ینـــی شی پری وچی جنتو نه و دا نیـــــږ ی
چی هلو نه پری زهیر شی دا لوړ غرو نه هوار یږ ی
چیرته غونبی چی شی ویلی آسما نو نه ښکته کیږ ی

* * *

په ژوند و حرکـتو کــــی پروت دژوندغه اسرار دی
ای زما د ژوندا میــد ه ! ژر ژرراشه نوردی وار دی
خلك ستا په انتظا ر د ی وطن ستـــا پــه انتظار دی

www.libtool.com.cn

دسپین غرله سپینو واورو — دسپر لی باد را چلیږی
دلته هم دگلو تل کی — دا وږمی ور ته گړیږی
دغه هم دانسان زور دی — چی سیندو نه را ستنیږی
وچ ډاگو نه تازه کیږی — په دښتو او به بهیږی

* * *

دخیبر په افق باندی — هلته لمر په راختو دی
دسپین غره په شفق باندی — سپین سبا په خپر یدو دی
دلته برق د ژوندانه هم — هر پلو په ځلیدو دی
ننگر هار میلو د پاره — هر یو زړه په تخنیدو دی

* * *

اوس هغه دښتو نه نشته — سمه غر گل او گلزار دی
ای زما د ژوند امیده! — ژر ژر راشه چی دی واردی
خلك ستا په انتظار دی — وطن ستا په انتظار دی

* * *

دلته مینه و ینم زړو کی — دلته نور وینم خیرو کی
دلته فکر په سرو کی — نوی زور هم په لاسو کی
یو رو ښانه مستقبل دی — را روان په تیند کو کی
دا زاړه به زوال دومی — نوی زیری په دی شپو کی

* * *

رانژ دی وخت دمیلو دی — دخو ښی او دخوندو دی
دښکلا په انقلاب کښی — دپسر لی په رنگینو کی
دنا رنج دگل میلی ته — ستا و ږمی راځی ویښو کی
چی د ژوند په مزو پوهشو — دا ارمان مو ا رما نو کی
په ښو لار جا رو کیږی — «رازقی» زړه ستا په‌لار دی
ای زما د ژوند امیده! — ژر ژر راشه نور دی واردی
خلك ستا په انتظار دی — وطن ستا په انتظار دی

* * *

www.libtool.com.cn

# دافغان اولس هیواده

له غیر ته ډکی خاوری — دافغان او لس هیواده !
دپیا وړو سړو کور ه — دعظمت لو یه بنیاده!

هره تیږه دی تاریخ دی — ژوندی‌ستا افتخارات دی
تاترو کی دی‌لا اوس هم — درنو تو رو بر ینښناده
دبازانو ښکلی ځالی — دزمرو لو یه دیره یی
په دی‌ویاړو دایشیا چی — تا زید نه نن په تا ده
آزاد تا کی زیږید لی — نو خپلواك به دی‌تل‌ساتو

سر ښند نه د زلمیو — خو په تا باندی‌رښتیاده
ککړ ی د غلیما نو — ستا پښوکی‌خاوری‌شوی
هر ملی‌دننگ‌غورځنگ‌دی — اسا رت په سر بلا ده

هره تړه دی سنگر دی — هره څوکه دی‌مورچل‌دی
دهړانی شهکا ری دی — دتا ریخ لو یه ښکلا ده
مړنی چی پکښی اوسی — دملی بیر غ د لاند ی
راز قی زړ گیـــــه ! — دادعزت‌خونه ښښتو نخواده

* * *

www.libtool.com.cn

# ازادی که دژوندنوم

ای آزادی دولسو دنهضتــو نــو رازه !
دانقلاب خوږی نغمی دتحریکونو رازه !
دا ښوریه نی چیرته
دا خو ځید نی چیرته
دانسانانو جنبشونه ،ښور ښونه چیرته
ای آزادی د ژ وندانه آوازه !

* * *

په دی نړی کی دغه ښکلی بدلونه له تا
دا او ښتنــی او ژور تحو لونه له تــا
دجریا نونو سره
دکار وانونو سره
نن دبشر مبارزی ټول جهادونه له تا
حرکتونه له تا

* * *

ای آسمانی سو غا ته ښکلــی‌جنتی سوغاته
په دفطرت نعمته ښکلی طبیعــی‌سو غا ته
په دبقا ښښانی
دارتقا ښښانی
چیر ته چی ته نه یی هغه خلك نو تل دی ښکته
مړه دی او ډیر بی پته

* * *

ای آزادی دژ وندانه دوهمه نومه‌او ښایسته تعبیره
رښـا دسولی ، عدالت یی‌دوروری‌تقدیره
نیکمر غی تاسره دی
شتمنی تاسره دی
انسانان تا په وینو اخلی ای‌دروح تقدیره !
دښکلی ژوند ضمیره
ای آزادی !

www.libtool.com.cn

# زما پښتنه خاوره

ددی گران وطــن زلمــی یــم اوسر باز یم
سا تندوی دحر یت، نـــــــه امتیاز یم
دامی خاوره که مور می
دا می کور او ښکلی گور می
راته گرانه تر هر چا او پــری‌مین یم
دا وطن زما اوزه د دی‌وطن یم

ما خو پو څی پکښی کړی دی‌په مینه
له دی هسته ده زما غو ښه اووینه
دا زانگو می دروزنی
دا می غیره دپالنی
چی له دی ځنی پیدایم په کی‌پایم
زو په مینه به یی څکه مدام‌ستایم

• • •

دلته لوړ دی آسمانونه ، هسک‌دی غرونه
دلته مست دی آبشـــارو نه او سیندونه
داده ناوی دښارونو
دا زانگو دتمدن ده

www.libtool.com.cn



به ملی افتخا راتو یی نازیږ م اوخوښیږم
بس ددی په یوه لویشت تر سرتیریږم

دلته ستر دلته آباد اودلته ښاد یم
دلته د روند دلته ژ وندی یم او آزاد یم
حریت زما گاڼه ده
سوله ، امن می شعار دی
ددوستی په لاره څم اوپت یی ساتم
همیشه غواړم ورورری . عزت یی ساتم

* * *

زه سرباز مین په صلح او حریت یم
بریا لی په سر تیری او په غیرت یم
یوه دوخت په ښو رمزونو
په هر رنگ نزاکتو نو
لرم علم درنی توری ترخنگه
به وړتیا می ښه کوم دهیوادرنگه
چی زلمی دنوی وخت یم
اوسرباز دشلم قرن

www.libtool.com.cn

# دجمهوریت پیغام

ښخو خیبری پا خیږی ملګروستړ ګی بیرته کړی
نور نو سپین سهار دی توری‌شپی نوتیاری نشته
وخته پا خیږ لی خپسی موله‌ځا نونو ده
نور نو مه ډا ریږی ویره نشته،خطری نشته

* * *

ونیموریږی ،یور ته شی مړه نه‌یاستی ژو ندی یاستی
زور موشته په‌متو کی او فکرمړسرونو کی
ستا سی طبیعت کی ډیــــر ښایسته استعدادو نه شته
ناو مو شته په وینو کی اونورمو شته په زړونو کی

* * *

هغه چی کار وان دتمدن‌ردنه‌اوږروړاندی دی
هله چی ناوخته دی عمــل اوچټکتیا ښما یی
دا ورا نی ویجا ړی مو پلاسوخوږ یدلای شی
هله همت وکړی ،قر بانی‌بنا‌یی‌ورتیا ښما یی

* * *

نور موږد وطن یو اووطن زموږدپاره دی
نور مو‌یه خوږو خوږو وعـــدوخلک غولوای نه‌شی
نوری هراړ خیزی بد مر غی‌له‌منځه تللو تکی دی
نور نو تیر ترخه وختو نه‌شماته‌ستنیدای نه شی

* * *

گرا نو وطنوالو! ملا وی وتړی‌دکار وخت دی
www.libtool.com.cn
دا ښکلی وطن در ځنی ډیری‌قربانی غواړی

اوس نوددی وار دی چی جوړ خانته جنتونه کړو
دا ښکلی ارزو دخدمت مینــه‌لیونی غواړی

* * *

نور زیا تی تنګی ،فساد تذویراوداوکی نشته
نو رهیڅوک دچاپه وینوغوښدوپرسیدای نه‌شی
دا ښکلی پیغام دجمهــوری دی‌هیوادوالو ته
نور هیڅوک دچاپه تیتهدو کی‌لوړیدای نه‌شی

www.libtool.com.cn

# ملی شهید

دقر با نیو په سرو وینوکی چی رنگ شهید یم
په افتخار می سر ورکړی دی په ننګ شهید یم

په لوی ایثار می دنړی سره سیالی ګټلی
دهر افغان دژوند می ستره نیکمرغی ګټلی
په سر ښندنو می ددی خلکو ښادی ګټلی
دی ګران هیواد ته می دا ښکلی خپلوا کی ګټلی

دافغانی خاوری ډیوه بانډی پتنګ شهید یم
په افتخار می سر ورکړی دی په ننګ شهید یم

* * *

ما امتحان دسر بازی په هرډګر ورکړی
دمیړه توب لو ست می غلیم ته په سنګر ورکړی
هر یو یر غل ته می سینه او ټټر سپر ورکړی
دقام وطن دشرا فت په نوم می سر ورکړی
چی آزادی می یادګار پرینښی ددی جنګ شهید یم
په افتخار مـی ور کړی دی په ننګ شهید یم

***

www.libtool.com.cn



دخپل وقار بیرغ می پورته په آسمان جگ کړی
دبا توری ښکلی اواز می په جهان جګ کړی
په نړی والو کی می سر د هــر افغان جګ کړی
دامی په توره ،سر ښندنه او ایمان جګ کړی
ځکه په‌جار وایم تر هر چا نه سر د ننګ شهید یم
په افتخار می سر وړ کړی دی په ننګ شهید یم

* * *

زما همت وچی دزور می سنګرونه مات کړل
دمې په زورمی دښمنو اورمیرونه مات کړل
داستعمار می پولادی کلــک ځنځیرونه مات کړل
داستثمار می په یر غلو غــرځنګونه مات کړل
د ګران هیواد دښمننی خاوری د ننګ شهید یم
په افتخار می سرجار کړی دی د ننګ شهید یم

* * *

www.libtool.com.cn



# دآزادی

## پر یښته

ددی شنه آسمان دپاســه
د شفق‌تر سر خي وړا ندی
دسپوږ مې په پلوشو کې
کهکشا ن نه هغې خواته
په هرځه‌کې‌چې‌مې نورشته
په دی ډیر ښکلی‌جهان‌کې

هغـــه ار ته فضـــا کې
دا فـــق ښکلې خندا کې
د ړنهـــو ستو رو ځلا کې
دتاو ده لمر پـــه رڼا کې
په هر ځه‌کې‌چې‌مې رازشته
ملکــه دبر کــت یـــم
زه رڼا د حریت یـــم

* * *

دنسیمه سره یو ځــــای
له تنکیو شا ن غوټیـــو
دګلـ زار له‌تازه تو بـــه
ددی لویو ترو منـــځ کې
ښه تابلــو در نګینـــو
په دی هر راز او ښکلاکې

په خوږو خوږو ورمو کې
د ګلو نو په غو نچـــو کې
د بلبلو په نغمـــو کې
په ګلهاد ځړو بـــو کې
کیفیـــت د فنکاریـــو
لوی کمال د طبیعت یـــم
شهکاری د حریـــت یم

* * *

www.libtool.com.cn

لوړو غرو په هسکو څوکو
تر آسمانه چې‌دې لو ړې
چې‌یې خیته کې لعلونــه
هغه دښت هغه ساراکې
دبد به او شبو کتـــونه
په دې ګر دوکې‌چې‌پروت‌دی

په دې لوړو سر درو کې
هغـــو ځګو تاتــرو کې
او پر مخ یې تول ګلونــه
هغو غـــرو هغو رغو کې
دا غـــرور او عظمتـــو نه
هغه«شته» هغه«قیمت» یم
آزادی او حریـــت یم

* * *

د خو ږو چینو اوبو کې
درو دونو په مستی کې
دنرو لښتو پــــه غاړ ه
په هرڅا څکې دباران‌کې
په ربنتینی چې «حیات» دی
لوی تعبیر چې دژوندو ندی

په اخپو کې دسیندو نو
په تل تــل کې د بحرونو
درڼو ویالو په منــځ کې
په در ګیو په ډنډو ونـــو
ارز ښتو نه‌یې لا زیات دی
لویه مور د سعـــادت یم
زه معنا د حریـــت یـــم

* * *

لاندې باندې چې ځلیږی
چې پری ښکلی کاینات دی
دانغمه او کـــه آوازدی
په دې ټولو رمز مو کې
تحول که تاز ګــــــی ده
ددې ټـــولو پـــه ذرو کې

داز ماټو لــــه رڼــا ده
دا ښکلا ګر ده زمــــا ده
که داسوز دی اوکه‌ساز دی
تاوه شوی می‌نـــوا ده
حر کت که رنګینــی ده
بس جلـــوه د معر فت یم
کلمه د حریـــت یـــم

* * *

www.libtool.com.cn



هنگا مه دور ځو شپـــویم
چې لههیچا نه هیریـــــږی
حرارت پهجنبشـــو کی
هر غورځنگ دانقلاب‌یم
لکه روح یم د ټولنـــــــو
دبـقا او پـــــت دپاره

و لو له دزمـــانـــو یم
افسانه دتاریخـــو یـــــم
لکـه سـاه مبـا رزو کی
حر کت د مرحلــــــو یــم
لکه ژوندیـــم دقو مونـــو
انسانـــی مو جو دیت یم
حقیقـــــت د حریت یـــم

* * *

زه ښکل شوی‌یم په وینو
ددی سرو اورو په منځ‌کی
چی‌په وینو می ساتــل دی
داله مال اوسرنه پورته
دا رښتینې انسانان مـــی
زهیی ژوند او کرامت یم
چی هیڅکله نه مړه کیـږی

روزل شوی یـم په وینو
گټل شوی یم په وینـــو
اوپه وینو زما ژ وند دی
نمانځل شوی یم په وینو
په رښتیا دی مینـــان می
زهیی روح زهیی قدرت یم
پرېښنته د حریــت یم

www.libtool.com.cn

# زما سپېڅلو هیلو!

ای زما لوړو، ښکلو ښکلـــــولا سپیڅلو هیلو!
ماته نړی کی تر هرڅه څنی منلو هیلو!
درځار شم بس ستاسی دپاره نن زه ژوندکومه
زماپه ژوندکی، زښته زیاتو نازو لو هیلـــو!

* * *

ماسره نن دالوړ احساس اومفکوری له تاسی
دانقلاب په خصلت پوری و لو لی له تاســی
داچی د مینی نوی رنګ ورکوی هر محفل ته
دنوی ژوند می دا نشی اوپیمانی له تاسی
تاسی زما د منزل لارکی دمشعل په مثال
تاسی زما د ښه تقدیر او ښه ازل په مثال
تاسی زما دپاکو پاکو عقیدو کانونیی
تاسی زما د بختوره مستقبل په مثـــال
زماپه لوړ افق کی تل په ځلیدلو هیلو!
زما پـــه ژوند کی زښته زیاتو نازولو هیـــلو!

* * *

www.libtool.com.cn


تاسې سره دی دربښتینې نیکمرغی زیری
دسولې،امن ددوستـــې او آزا دی زیـــری
نوی نړی د جو ړیدو په خاطـــرشته درسره
دمساوات، برابری او دوروری زیری
ستاسې په تنده کې رو ښانـــــه تقدیرونه ښکاری
ستاسې په مینه کې د مینې جهانونه ښکاری
چې رسوی دا انسانان نـن بشری معراج ته
تاسې کې دغه ستر رازونه ، الـهامونه ښکاری
په جهانی ښو ارزو گانـــو کی ښاغلو هیلو!
ز ماپه ژوند کی زښته زیاتو نازولو هیلو!

* * *

ستا سې ښکلا زما ژو ندون تـه رنگینی ورکوی
ستاسې کمال ز ما جهان ته تازگی ورکـــوی
دانقلاب او حرکت لـــوری دی ستاسې په خوا
ستاسې شعور خلکو ته زیری دبری ورکـوی

چیر ته چی دا نتلې ژوندمې دانسان په خیرشي
چیر ته چې ځان مې له هرلوری د خپل ځان په خیر شي
چې دا تیاری، خوشي ځاروتــه ،بدمرغی نه لری
چې مې جهان داوسید لو دجهان په خیرشي
هلته مې خپلو وزرو کې کـړی په وړلو هیلو!
زماپه ژوند کی زښتو زیاتو نازولو هیلو!

www.libtool.com.cn

# ای زما گرانه وطنه

ای زما گرانه وطنــــه!
خو ژو ندی یم تا به ستا یم
قر بانی زلمی به ستا یم
قر بانی زلمی به ستا یم

* * *

ای له ننګه ډکه خا وری!
دافغان شتمنی مینــــی
یــه له ښتــه ځنی جــوړی
د عزته ځنی جــوړی
د بر مو لو یــه زانګو یی
زما نــی دی تل رو زلــی
تمــدن پــو ره مثا لـــه
لــه عظمتــه ځنی جــو ړی
ددنیا پر مــخ جنــت یی
دایشیا پهسر چی تاجشوی
دروند وقار دډ پکښی نغښتی
شمها متـه ځنی جــو ړی
هر بچی دی ننا بغــه دی
هر یو زوی دی قهر مان دی
دهما سیوری دی غیـــره
لــه بر کته ځنی جــو ړی
چی میره دی یــم رو زلی
دمیرا نی به او س وا یــم
ای زما گــرا نه وطنــه
خو ژوندی یم تا به ستا یم

* * *

دتا ریخ پا نو کی نغښتی
دعظمت ښکلی تصویر یی
په سرو زرو لیکل شــوی
دوختو پر مــخ تعبیر یی

www.libtool.com.cn

کله نا وی د ښنا رو نــو کله مــور د تمدن شــی
د ښکلا او شتمنی نـــه طبیعت کی بی نظیـــر یی
ستا په تړو کی ښکا ریږی کار نا می د شمهکا ریـــو
ستا په هسکو څوکوویاړم دآزاده روح تقد یر یــی
ستا په‌سربا ندی تیرشوی توفانو نه دنوح ډیر دی
دالوړ غرو نه دی‌سنگری قدر تونه جوړ تد بیر یی
ستا په مینه پیدا شوی ستا په مینه به نو پا یم
یه زما گرا نـــه وطنه څو ژوندی یم تابه ستایم

* * *

افغا نان په‌تا کی اوسی ښکلی کور د پښتنو یی
دهما تر ځا لی پو ر تـــه پښتنو نخوا دشازلمو یی
دغه سپین‌سپیڅلی خلك چی بی‌ساری دی‌نړی کی
ستا مقام‌تر ډیرولوړ دی ځای د هسی پر گنو یی
چی زمری د سر درو دی او سپړی دی د ښنا رو نو
قدر منه غوندی خــو نه ته دغـــه ولسو یـــی
دکمال ،هنر او فن خو ستاپر مخ دی‌پوره شوی
چی نړی کی چیر نه نشته طبیعت هغـــه تا بلو یی
تر هر څه‌نه را ته خو ږه په‌رښتیا ترتا فدا یـــم
یه زما گرا نـــه وطنـــه! څو ژوندی یم‌تابه ستایم

* * *

www.libtool.com.cn

د پامیر دا لوړ سرونه — د ملي غرور رازونه
بدخشان لمن دی ټوله — ژیړ گلونه سره لالونه
هندوکش لویه سینه دی — ده له سرو او سپینو ډکه
د بقا سندری وایی — ستا دروکی، لوی سیندونه
خدایزو ستا خیالی خیبر ته — دهرچا سر دی ټیټ شوی
ستا په دنگو تاترو کی — لا پراته دی هیبتونه
تاریخی افتخارات دی — سموغرو کی نښانی دی
دبا تور ولس ټاټوبیه — هره خوا دی مړ چلونه
ستا بچی دی سره ورونه — څه که لږدی او که بر دی
دآمو او سیند بهدی — دیوی مور دوه تیونه
نن په ویاړ رازقی وایی — ځوان عسکر دپښتونخوا یم
ای زما گرانه وطنه! — څو ژوندی یم تا به ستایم

* * *

www.libtool.com.cn

# دوطنپالنی غرور

ماتههغه خو له شه، چی غیرت پهراته نه ستایی
گونگه هغهژبه شه ، چی پت به را تهنه ستایی
ځوان یمه خو ښیږی میډ ځــوانغوندی کارونه تل
ورکدی هغهځوان شی چی همت بهرا تهنهستایی
سر لهپته ځار شه ژوند هغه چیلهابرو ډك وی
اوردی شیږی پوزی چی عزت بهرا تهنهستایی
زه می د هیواد په هره خواترسره تیریمه
خاوری‌هغه سر شه حریت بهراتهنه ستایی
ننگ نا موس زما ددیوطن هرهخبره ده
خوارشههغهځوك چیداوحدت بهراتهنهستایی
زه دانقلاب بچی او لوی مبارزوکی‌یم
تیرله هغهژوند چی حرکت بهراته نهستایـــی
داده تقاضا دو خت ښکل کیږی‌تاریخو نهبه
څه په هغهوخت چی هیڅ نهضتبهراتهنهستایی
ستایم رازقی !مبارزی همیشـــه ستایمه
تورشههغه مخچی واقعیت بهراتهنه ستایی

www.libtool.com.cn

# گرانه وطنه

ښکلی وطنه ز ماگرانوطنه! ستاهره خواله عظمتو ډکه ده
که ستا پرمخ باندی گلونه اوسی خیته دی هم له گنجینو ډکه ده

* * *

دبلخ عظمت دی دتاریخ خاطری ستابد خشان هم دلعلونو منځ کی
ستا ننگر هاردگلو ښکلی هاردی په اوړی ،ژمی دگلونو منځ کی
نامتو خیبر دی ښکلی وردختیز پامیر داستا د سرلوړی ښبانه
«سیند» او«آمو» دیوی مورتیونه ستا هندوکش هم دهستی ښبانه
سپین غردی پټ په سپینو واوروباندی لاندی لمنی یی په گلو پوری
ښکلی پغمان دی دښکلا منظره دښت او گلشن دی په بلبلو پوری
ښکلیه وطنه زما گران وطنه! ستا هره خواله افسانو ډکه ده
که ستا پرمخ باندی گلونه اوسی خیته دی هم له خزانو ډکه ده

* * *

ستاپلن ډاگونه دهستیوغیره ستامست سیندونه دقدرت نمونی
ستاسپیری خاوری له سروسپینوزیاتی ستاتوری تیږی د قیمت نمونی
ستاگڼ ځنگلونه کیمیابوټی دی ټول ستادلمرو ړانگی دژوندون ذری دی
آسمان دی ښکلی ځمکه لاگلالی ستا هر پلوخو دهستی کیسی دی
ښکلی هرات دی دادبزانگوده غزنی دی ناوی دښارونو هم ده
ستادبامیانو تاریخی ښبانی ښکلی تابلو دشهکارونو هم ده
ښکلیه وطنه ز ماگران وطنه ستاهره خنده له سرو ډکه ده
که ستا پرمخ باندی گلونه میشت دی خیته دی هم له خزانو ډکه ده

* * *

www.libtool.com/cn

څوك ستا لا لونه بدخشان کې نما نځي ‏— څوك ارغوان دي په پروان کې ستايي
ستا گل سرخ باندي مزار ښکلي دي ‏— څوك دي قاليني تركستان کې ستايي
په نارنج گل دي ننگرهار سمسور دي ‏— ستا كندهار كې د ميوو ميلې دي
ستا هره خواستره له بلې خوا ده ‏— ستا شرق او غرب كې د خوږو ميلې دي
سپينه پنبه ده سپينو زرو په شان ‏— ستا سره انار هم د نما نځلو وړ دي
ستا د غنمو ورځ هم لا ښکلې ده ‏— خواږه انگور دي د ستا يلو وړ دي
ښکليه وطنه زما گران وطنه ‏— درنده لمن دي له ميوو ډكه ده
كه دې پر مخ باندي گلو نه ميشت دي ‏— خيټه دي هم له خزانه ډكه ده

* * *

www.libtool.com.cn

# جمهوری دی تل وی

وطنه گرا ن وطنه گل وطنــه    ښاد او آزاده اوسی تل وطنه !
ته می مورچل تهمی بورجل وطنه    سر به په تا درکوو خپل وطنه!

* * *

مبارکی د خپلوا کی درکـــــوو    دسر لوړی او آبا دی درکــوو
روڼ مستقبل موانتظار وباسی    زیری د هسی سو کالی درکوو
جمهوریت د ی اوسه مل وطنه!
وطنه گران وطنه گل وطنه !

* * *

زموږ شعار دی چی ستا پت به ساتو    ستا لو ږ ننبان اوحریت به ساتو
ددی کمبختو پلرگنو په خاطــر    نوی نظام جمهوریت بهساتـــو
روان بهیو دو خت پهپل وطنه!
وطنه گران وطنه گل وطنه !

* * *

ټول افغانان یوستاشهکارهاردو    پیغلی ځوانان ستافداکاره اردو
رانزقی فخر پهدی ځوان اردو کړی    ملی قوت ستا وفا داره اردو
دجمهوری دی تبریك بل وطنه!
وطنه گران وطنه گل وطنه !

# دمبارزی مین

www.libtool.com.cn

کهمی لار پرېږدم آشنایانو تهبهڅه وایم نو
دانقلابوفا دارانو ته به څه وایم نو
که قربانی ته په مستی او په ګډاورنشم
دخپلی ډلی لیونیا نو ته بهڅهوایم نو
که دازړه میخاّ نه ګردهرا نسکوره نهکړم
دپیمانی انډیوالانو ته به څه وایم نو
که می پهپت کړی وعدی واړهترسره نهشی
دکورو کلی همزو لانو تهبهڅهوایم نو
که ددی خلکو پهسر تیرتر مال اوسره نهشم
دژوندډشمعی پتنګا نو ته به څه وا یم نو
زهبه می وینی تویوم د حق پهسپینه لار کی
کنهدو خت قهر مانانو تهبه څه وایم نو
دنوی و خت له تقاضونه که پهشالاړ شمه
دنوی نسل سر بازانو تهبهڅه وا یم نو
که میمړ نه شم ددی لوړ هدف پهلوی پړاو کی
دپاکیمینی مینانوته به څه وایم نو
پهقوی هوډ چیتل ولاړ یم هغهځوان یمه زه
دانقلاب سره چی ځم هغه انسان یمهزه



www.libtool.com.cn

# دموجودیت مینه

ای خپلواکی ! په‌ژوندانه کی‌دژوندیو مینی
ددی‌نړی دډیرو ښکلو شان هستیو مینی
ستا هنگامی د ی دجهان په هریوگوټ کی خپری
ته‌کله‌مری ای دانسان ددی خودیو مینی

دا حرکت اونوی یوالی خو له‌تاځنی‌دی
دابتکار او تحول د تاز گی ومینـــــی

چی دا بشر تر څو ژوندی وی‌ترهغی به‌ته‌یی
غوره‌له‌هری مینی ای دنیکمر غیو مینـــی

ته دهر چاوینو کی گډه یی‌بیلیږی‌کله
ای‌د ښکـــلا او د هنـــــر د رنگینومینی

داستا وجود هم روزل کیږی په‌دی‌سرو وینو تل
دقربانیو دشهکار او سر بازیو مینی

سو له او ا من ستاسپیڅلـــــــی‌سوغاتونه منم
دانقلاب مبارزو او د هستیو مینـــــی

داسر او مال می ستا دپاره چـــی‌انسان‌په تایم
تابه‌ورنه کړم چی ژوندی په دی جهان‌په تایم



www.libtool.com.cn

# خپلوا کی رڼا ده

نه وی دو مره پلنه ځمکه    نه دادو مره لوړ آسمان وی
ځلور خوا وی وری مجهولی    نه هم لوی دو مره جهان وی
دډې روڼ افق په غیږ کی    او د سره شفق د لاندی
نه مو سکانه یی ژړا وی    نه فضا او دا رڼا وی
ستر ګګو نه کله بر یښی    ددی سستو رو نظا رو کی
د رنګو نو ذ ری نه وی    په دی سپینو پلو شوکی

هر څه وی او هیڅ‌څه‌نه‌وی
په‌کوم ځای کی چی تیاره وی

* * *

تنکو خو لو کی دغو ټیو    دا زړه وړونکی خندانه وی
د ګلو نو په غنچو کی    که وږمی وی ښکلا نه وی
طراو ت د چمن څه کړی    د ګلزار په رنګینو کی
کیفیت د مینی نه وی    د بلبلو په نغمو کی
زمز می د ځړو بیو    بی شنها او بی ګڼا وی
د نسیم په چلیدو کی    نه څه ځوږ او نه نڅا وی

هلته مینه ښکلا نه وی
چی په چا چیری تیاره‌وی

* * *

بی بر کته حرکت وی    او درنده شان خاموشی وی
هر عمل تشه ایدیا وی    په هستیو کی نیستی وی
نه ښو رښی نه‌نوم دکار وی    او ښتنه نه‌روز ګارو ی
د خوبو نو په خوبو کی    ویده و تو ب او چوپ‌اسرار وی

www.libtool.com.cn

له هر لوری درونه سکوت وی پرو ت جمود وی اودهشت وی
ز مز مـــو د آوا زو کی اخښـــل شوی بد هیبت وی
مر گ ته ور ته او سیده وی
چی خپـــره چیرته تیاره وی

* * *

انسانی قـــدر ت ولاړ وی انر ژی گر د ی ویـــدی وی
عمـــل م ړاو فکر پـــړ وی ژوند بی نقش او اغیزی وی
گنجینـــو او نعمتـــو کی نا داری او کمبخـــتی وی
څه چی هلته یی احساس شی خ وشی ډار او مجبوری وی
پښه گو ډه وی لاس‌مات‌وی ډیر محدوده تنگ‌ژ وندون وی
د حسر ت او غـم تر منـځه انتظار د بد مر گـــون و ی
هلته ژوندبه زیا تی څه وی
شپی اور ځی چی تیاره وی

* * *

څه پــــه ډیرو ښتمنیـــــو څـــه په ښکلـــو رنگینو
چی یی گټه او نه خـــو ندوی څه په دی خوشـــی هستیو
زراو شگی چی یو شان وی روغ، ناروغ وی یی تو پیـــره
هلته هر څوك وی‌چی اوسی بی ازل او بــــی تقدیـــر ه
هر عمل د ځان په زیا ن وی هره هیلــــه نومیـــدی وی
بی احساسه غوندی ژو ند وی هر یو کار کی نا کا مـــی وی
هلتـــه سر او نه ماغــزه وی
چی تور تــم چیر ته میشته‌وی

* * *

www.libtool.com.cn

هلته زړه‌اوز ه احساس وی | نــه آرزو ، مینه او راز وی
طبیعت پــــه فنکار ی کی | نه شهکار اونه اعجـاز و ی
څو مفهو مــــه عوا طف وی | احساسا ت خیالی ر مز ونه
فکر نه‌وی عـــمــل نه وی | نه وی ساه نه یی را زو نــه
یو جا مد مخلـــوق انسا ن وی | دخمود په چا پیر یــــا ل کی
مستقبل او ما ضی څــه کړی | د عــــدم په‌تر خه حـــال کی

بدبختــــــی د هر ملــت ده
دا تیاره داســـــــار ت ده

* * *

www.libtool.com.cn

## تجويز

ښکلي په مينه دنمانځلو دی نور
د گل ا غـــزی د ښکلو لو دی نـور

سا قی که څه هم ستا پری‌خوابديږی
داتش خمـا ن دار تولوی دی نـــور

دبند گی چی تر آبده خــلاص‌شو
گرده بتـــان د ماتولو دی نـــور

چی‌تور او سپين ښکاره شی‌هريو چاته
داپټ حالـــونه دو يلو دی نـــور

د حق پر ځای چی د باطــل‌پيرويو
داعقـــايد دپريښو د لـو دی نـور

چی ازلی بد مرغی نقش پری‌دی
سپيره‌تنـــدی هـــم ددا غـــو لودی نور

چی په وعده بانده ترســـره‌تيروی
دغه‌يارا ن هم دستايلو دی نـــــور

چی خپسی په شا ن نيو لی‌يی‌يو
داسمـــی کسا ن دور کـولو دی نور

* * *

www.libtool.com.cn

# دښتمنیو مالکه

زما هیــواده د هستی او شتمنــومالکه !
دډیرو پانګو اوبی سارو ثروتو مالکـــه !
دسرو او سپینو ډیر کانونه ستادتیږو لاندی
دبدخشان بنکلی لمن دی دلعلونو ډکـــه
مستو سیندو منځ کی دی ډیری ملغلری پرتی
هره ځپه یی نو بیشکه سپینو،سرونه ډکه
دکو کجی هریو مدو جذر طلایی تمثیل دی
دپیچ دسیند لار زمردو له ذرونه ډکه
دایشمیا زړه کی دپیاوړو عظمتــو مالکه !
زماهیواده دهستی او شتمنــو مالکه!

* * *

په غرو، رغو نو کی دی بوټی له کیمیا نه ډک دی
دغرو سینوکی دی بی شکه خزانی پر تــی دی
ددی ولس دژوندانه په دی دړانده تاریخ کی
لـــه افتخاره ځنی ډکی کارنامی پرتــی دی
په جګو تړو تاترو کی دی غیرت چغه ده
په ابشاروکی دی دښه ژوند هنګا می پرتی دی
ای بد خشانه! دلاجور دوخزانــو مالکه !
زما هیواده د هستیو ، شتمنو مالکــه !

* * *

www.libtool.com.cn

ستا ترلاجور دو،ز مر دونه خـــــه‌گران نشته
له‌یوه‌کانې دی‌داپا نګی ثروتو نه ځار شه
دبد خشان لال دی کیسی‌دتاریخویادیږی
نظری مه‌شه ستاله نومه عزتونه ځــــار شه
زموږ نیستی خو نو زموږ له‌وزګارتیاځنی دی
ستاله‌هستیو دزور ګیرو دولتونه ځارشه
موږ به شتمن شو که کاروکـــړودکارو مالکه!
ز ماهیواده د هستیو ، شتمنو مالکـــه !

* * *

افسوس د خپلی بیکاری نه وږی‌تږی ګرځو
ګنی داستاپه دستر خوان کی نعمتونه ډیر دی
زموږ دازیاته ناچاری زموږ له‌خپله‌لاسه
ګ ښــی‌په‌تاکی سو کالی،سعادتونه ډیر دی
دګنجینو دپاسه موږ که بیوزلا ناوسیږو
په‌بیکاری‌کی دغه‌شان مصیبتونه‌ډیر دی
نن او سبادی لوږوو دقدرتو مــا لکه!
زماهیواده، د هستیو، شتمنو ما لکـــه!

* * *

www.libtool.com.cn

# پښتونستان

## اودنوی وخت زیری

والگیدی شمعی دخیبر ئی تاترو په سر
پور ته سری جنډی شوی د سپین غره او گړنگو په سر
جگی انگاز ی شوی د بلوخولوړوغرو په سر
هسکی دچترال او دپامیر دسردرو په سر
راغله آوازه په نښیدو دهنگامو سره
مخـــی ته یی وو تلی پیغلی دزلمو

* * *

لوی افغانستان ځنی کاروان دوروولی راځی
سندته له آمو ځنی پیغام دآزادی را ځــی
هر پښتون خپره غیږ انتظــارد هر کلیو کړی
زړو نو ته الهام د ډیری ښی عزیزو لی راځی
بیرته کړی ځوانانو دروازه دخیبر بیرته کړی
لار په لیمــو فرش کړی اودزړو ورته اوربیرته کړی

* * *

نوك او دوری دبیلتانه خبری تیری شوی
لا وینی شوی گډی او له زړونه راچاپیری شوی
پورته جنازه داستعمار او اسارت شوله
نوی زمانه ده زړی پیښی زیاتی هیری شوی
پاخیږی او مات له یوی مخــــی ځنځیرونه کړی
وران په ستر یووالی دډیورنډ فرضی خطونه کړی

* * *

www.libtool.com.cn

پاکی مو حجری کړی چی پردی نه دی خپل خان را ځی
گرمی مودیری کړی چی انسان کره انسان را ځی

وباسی له کلیو او کورونه دښمنی نوری
گوټ چنی جاروکړی چی دنوی ژوند کاروان راځی

زړو نو کی ځای ورکړی چی میلمه دی نوی وخت زمو ږ
ویښ ورتــه له خوبه نوی ورځی ته شو بخت زموږ

• • •

خوښ اوسی چی نوی تاریخ نــوی پدیده راوړی
نوی زمانه موږ ته هم نوی اندیښنه را وړی

گران پښتونستان چی حقیقت وحقیقت بهشی
لویه پښتونخوا به دنړی په دی نخچــه را ځی

زیری دی چی نور ی موږ ته ښکلی نیکمرغی راځی
سو له، مساوات وروری ، دوستی او خپلواکی راځی

• • •

نو:
یو اوسی ، یولاس په یوه خوله او په یوزړه اوسی
ویښ اوسی چمتو اوسی آگاه په هریو څه اوسی

لر او بر راغونډ شی یو مرکز تــه دوروری په نو م
تلونکی دوروستی پړاو په لو ری لــوی واړه او سی

وتړی دلوی خوشال پگړی دپاچا خان په سر
سیوری «امانی» شی نن د هریوه افــغان په ســـر

نور پښتونستان نو راز قی! آزاد یدونکی دی
دانوی جهان مو خا مخا هم جــوړ یدو نکی دی

www.libtool.com.cn


# دانقلاب ناري

څنګه به آرام شم چې نغمې دانقلاب اورم
نوي سرود ونه ، ترانې دانقــلاب آور م
ده «انقلابي تیوري» جوهر دجنبش و زما»
څم به په تو پو چې زمزمې دانقلا ب آورم

دا زما آئین کې ډیر لوی جرم او بدشرم دی
لا زړه زیږم چــې کیسې دانقــلا ب آورم
ولې به توفان نه یم په غیږ د توفانونو کې
چغــې هره خوا څپې څپې دانقلاب آور م

کله په سکو ت او خاموشي کې او سیدلای شم
ځکــه آن له تیرو آوا زې دانقلاب آورم
زه هغه نغمه یم چې دحق له خولې ختلې یم
لاشم سره لمبه چې کارنا مــــې دانقلاب آورم
وینې یمه هو بنیار یمه په خار یمه تیار یمــه
غږونو او رغونو کې انګــــــازې دانقلاب آورم

پور ته شې ملګرو ! مرحله دنوو نــــوو ده
و خوځیږی وړاندې چــې ناری د دانقلاب آورم



www.libtool.com.cn

کله چی د جمهوریت په ضددتوری
ارتجاع لو مړنی شومه‌دسیسه‌شنله ه
شوه

# حق زما پر خوا دی

دا خلك ډیر دی دردیدلی نور به‌نه دردیږی.
چی‌په عمرودی رنځیدلی نوربه‌نه رنځیږی
* * *

که‌لوږی ،تندی ،بی کوری دی هم‌په دوی تیریږی
که‌بربنډتیاا‌و‌ناچاری دی هم په دوی تیریږی
کومه بلا نه‌وه چی‌نه ده رالویدلی‌پردوی
که هراړخیزی بد مرغی دی‌هم‌په دوی‌تیریږی
داچی دی ډیر زیات کړیدلی نوربه نه‌کړیږی
داخلك‌ډیر دی رنځیدلی نور به‌نه رنځیږی
* * *

که‌ناروا اویا زورونه دی هم‌دوی‌زغملی
که ډیرغمونه‌او ربړونه دی‌هم‌دوی زغملی
دزړ او زړو خا وندا نو پری ډیـــرخه‌کړی دی
که‌دازجرونه‌عذابونـــهـ دی هم دوی زغملـــی
چی دی تراوسه نو لیدلی نوربه نه نو لیږی
دا خلك‌ډیر دی څوریدلی نوربه‌نه څوریـږی
* * *

www.libtool.com.cn
ددوی په سر او پهوطن یی ډیری لوبی شوی

په غوښو،وینو او پهتن یی ډیری لوبی شوی

حال ددی خلکو دکر کجنی ماضی ښه شاهد دی

پهمستقبل اوپه دی نن یی ډیری لوبی شـو ی

چی له سیالو دی لوییدلی نور به نه لوییږی

دا خلک ډیر دی ځوریدلی نور بهنه ځوریږی

* * *

نور هغه وخت تللی اوبیا تکراریدلای نهشی

هغسی توری دوری شاته ستنید لای نه شـــــی

هر څه چی وو تیر شول او خلکوهم په هیر وشمیرل

هغه چیشوی دی پخوا خو اوس کیدلای نه شـــی

که دی دا خلک غولیدلی نوربه نهغولیږی

کهپهعمرو دی دردیدلی نور بهنه دردیـــږی

* * *

نن ځنکنـدن په استعمـــــار اواستثمار راغلی

پهارتجاع او اسا رت دکسا ت وار را غلـی

دزوږ او نوی قانونی مبارزه کیهم نن

تــوروتیارو پسی دشپی ، رڼاسبهار راغلی

څه چیپه خلکو دی تیرشوی نوربهنه تیریږی

کهپهعمرو دیدردیدلی نو ربه نه درد یـږی

* * *

ددی هیواد ټول دښمنان به رسوا کیږی لا نور
www.libtool.com.cn
مرتجعین او خاینان به رسوا کیږی لا نور
لا به ښکاره شی چی دی پټی ډیری توری خیری
داګوډاګیان او جاسوسان به رسوا کیږی لا نور


که موطن دی ډیر خرڅ شوی نور به نه خرڅیږی
که دی داخلک دردیدلی نور به نه دردیږی

* * *

نور نو د خلکو ددی لوټو او بچیانو وخت دی
وطنپالو نکو عنصرونو، شهکارانو وخت دی
دانقلاب د قافلو سره چی یو ځای درومی
دنوی وخت دغوسترو انسانانو وخت دی

که سرپټوب دی آزار شوی نور به نه ځوریږی
که ډیر کور ړنه دی وران شوی نور به نه ورانیږی

* * *



www.libtool.com.cn

# زنې انسان یم

رون مستقبـــل خو به آخـــرورسی.
ماضی یو ځل بهسمتا گریوا ن خیری کړم
که شرایـطـو اشاره خـــهوکړه
لکه بریبننا خوبه اسمان خیـری کـړم
زما ایمان دی چی بهدا وخت راشی
دګی ممینـی چی د جهان خیـــری کړم
د مستی سیل، تندر اوتالنده یم
توزی پر دی به پهتو فان خیری کړم
دتګی دام خنګه شکو لای نهشم
زه خو لاغوا پم کهکشا ن خیـــری کړم
زه د رڼا په مشـال وړا نـدی ځمه
لار به منزل ته دکاروا نخیـــری کړم
چی خزا نی دنیکمر غـو لو خـــیشی
د مکان منځ کی بهز مان خیری کـــړم
چی ساتل کیږی پهکی کرکی، کینی
زه به دازړه دچاپه شا ن خیری کـړم
چی می مخ شاته اړوی لـــــهوړاندی
نو بهد هغه چا اعـلان خیـری کـــړم
دنن انسان یمـهجهـــــــان پیژنم
لکه خپل ځـــان هسی انسـان پیژنم

* * *

www.libtool.com.cn

# رازمنه آشنا

قسم په‌سر د ښکلی یـــارکومه
چی‌پــه جنــو ن می افتخار کــو مــه
و خته ! پوره می ښکلی هیلی‌ژرکړه
چی‌زه هــم تاغوندی تلوار کو مـــــه
چی تلوسی می تخنوی خیالونه
دچا را تگ ته انتظـار کو مــــه
آشنا ! ښه پوه شه وار خطانه‌یمه
بیړه‌می شته خوبیـــا هم وار کو مــه
په دی چوپتیا باندی می مـــــه‌تیروځه
کاروان ته‌ناست یمه او ښـــار کو مه
دا می و عده ده دنړی پـــــه‌وړاندی
چی‌به‌دکار دپاره کار کــــــو مــه
لا سونه کلك راکړه راز منه آشنـــا!
مینه‌دژو نــــــد په نوی لار کـــــو مــه

www.libtool.com.cn

# دشاعر لنډه پیژندنه

نوم یی محمد صدیق تخلص یی «رازقی» نړیوال دپلار نوم یی عبدالرازق په ۱۳۲۰ لمریز کال دکونړونو ولایت دنرنګ دکلی به یوه بزګره کورنی کی زیږیدلی دی.



لومړنی زده کړه یی تر ۱۳۳۷ کاله دهغه سیمی په لیسو کی سرته رسولی اود لوړو زده کړو دپاره ته رسولو په خاطر په همدغه کال کښه

هم ادبی اوهنری استعداد یی درلود په حربی ښوونځی کی شامل شو چی په ۱۳٤۳ کال کی یی له نوموړی ښوونځی څخه یی په ډیر ښه درجه (بکلوریا) بری لیك واخیست او په ۱۳٤٦ کال کی دکیمیا په څانګه کی دحربی پوهنتون دکیمیااو انجنیری له پوهنځی څخه په خورا ښه درجه په لیسانس اخستلو بریالی شو. اواوس دګران هیواد دواقعی لوړتیا اوپرمختګ په آرزو دملی نوا میسود ساتلو په لار کی دجمهوری ملی ښپرغ دلاندی دجمهوری دولت دوسله وال پوځ دیو ه کتابتون دآمر په حیث په خورا ایماندا ری او مینه خپله سپیڅلی وظیفه اجرا کوی.

په شعر ویلو یعنی دادب سره یی هغه وخت مینه پیدا شوی ده چی لا په ښوونځی کی نه و داخل شوی اود مطبو عاتی سابقی څخه یی نژدی دوه ویشت کاله تیریږی چی دده دعمر ترنیما یی زیاته برخه نیسی.

ښاغلی رازقی ته ځان دټو لنـــی آیینه ښکا ری او په ذهـــن کی یی داحقیقت هغه وخت ښه ځلا وکړی چی ځان په خپله ټولنه کی په خپله خیر ه وګوری.

www.libtool.com.cn

دی وایی چی: «هنر او ادب دیره چا شخصی مآ ل نه دی او نه یوازی دهنرمند او ادیب پوری اړه لری بلکه دده دټولنی پوری هم مربوط دی او حتی دی یی دټولو نړی والو فرهنګی میراث بولی».

په با ندنیو ژبو کی په روسی پـ وهیږی اودانګلیسی اوعر بی سره هم یو څه آشنا دی .

دپښتو ژبی پرته په دری هـــم موفقانه لیکنی کولای شی. خاز جی هیوادونه یی لیدلی نه دی خود ډیرو دغو هیوادونو دکلتورا و نورو خیرو سره څه ناڅه بلدتیا لری.

په ادبی برخو کی یی تراوسه ډیرزیات آثار لیکلی دی چی زیاته برخه یی اشعار دی. په دی اتکل دده دکتابونو شمیر تر څلویښتو آثــــارو زیاتیږی .

دځینو ملحو ظاتو له کبله (که څه هم ډیری ادبی جایزی یی وړی دی) لا تر اوسه دده دآثارو هیڅ یوه مجمو عه نه ده خپره شوی .

نوموړی داشعارو پرته په داستان، ناول، فلسفی، ادبی او نورو مقالـــو، وجیزو ،ادبی پارچواو داسی نــــورو موضوعګانو په لیکلو کی هم ښـــه لاس لری.

ښاغلی رازقی پوره باور لری چیدده آثاربه جاویدانی پاتی شی داځکه دی حتی دخپل وخته وړا ندی ماحول سره آشنا دی او لیکنی یری کوی.

رحمت «خیرزوی»

PROPERTY OF ACKU 7051

## دنباغلو لوستونکو څخه هیله کیږی چی د کتاب نر لوستلو دمخه لاندنی غلطی سمی کړی

www.libtool.com.cn

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ۱- کی | که | ۲ | ٤ |
| ۲- سرود | سرور | ٤ | ۱۰ |
| ۳- بریالیتو | بریالیتوبه | ٥ | ۱۰ |
| ٤- خربنوی | خوبنوی | ٥ | ۷ |
| ٥- خردسان | خراسان | ٦ | ٤ |
| ٦- کارودن | کاروان | ٦ | ۱۲ |
| ۷- ښکار، | ښکاره | ۱٥ | ۱۱ |
| ۸- ډر | ډیر | ۱۷ | ۱۲ |
| ۹- اوسسی | اوسی | ۱۹ | ۱۲ |
| ۱۰- ورکوم | درکوم | ۲۱ | ٥ |
| ۱۱- زمز | رمز | ۲۲ | ٤ |
| ۱۲- بربنډه تیا | بربنډتیا | ۲٤ | ۳ |
| ۱۳- بدلونه | بدلونونه | ۲۸ | ۸ |
| ۱٤- که | لکه | ۲۹ | ٤ |
| ۱٥- ردنه | درنه | ۳۱ | ۱۰ |
| ۱٦- . ور | سرور | ۳۳ | ۱٥ |
| ۱۷- ستاسسی | ستاسی | ۳۹ | ۱۱ |
| ۱۸- دزلمو | دزلموسره | ٥٥ | ۷ |
| ۱۹- رئخی | راوړی | ٥٦ | ۱۰ |
| ۲۰- دا | ډار | ٥۷ | ٦ |

www.libtool.com.cn

خپرونکی: ژوندون
مهتمم: رحمت «خیر زوی»
دچاپ شمیر: ۵۰۰ ټوکه

www.libtool.com.cn

## اندینبنی

دوروری، برابریو بنکلی بنکلـــی اندینبنی یم
دمحبــت اود دوستیو بنی سپیڅلی اندینبنی یــم
دلوړ تیا او سو کالیو لا منلـــی اندینبنی یم
زه دسو لـــی، آزادیو پر مختللـــی اند ینبنی یــم
دجهان پهنوم چی نوی پیغا مونهراسره دی
دانسان پــهخاطر لوړ لوړ ار مانو نهراسره دی